محمد داود مومند

## د مشروطیت غوښتني د دریمي دورې علمبردار
## محمدرسول پښتون
## ۱۲۷۹-۱۳۶۱ ش

جناب مرحوم محمدرسول خان پښتون د کښې یوه غښتلې اوپیاوړې څېره ده، دده چه په ځرګنده ددغې قافلې ځارانیان دروند سیاسي، اخلاقي، او ټولنیز قافله سالار و، په ټولنیز انجمن لکه پتنګان راټول وه او په اخلاقي او درویشي د معنوي جلال او لوی خان او په ظاهري بڼه درویش و. کښې نور بعدونه هم دکتنې وړ دي چه کړئ و. ارواښاد محمدرسول پښتون د لحاظ لوی خان و.



هیواد په معاصر تاریخ کښې د خپلو همقطارانو په لړ د شخصیت په ابعادو کښې هغه عمق لیدل کیږي دهغه ځخه محروم وه. محمدرسول پښتون یو شخصیت و په سیاسي ډګر کښې دی د ټولو کښې هغه یوه روښانه شمعه وه چه نور پرې لحاظ دخپلو همقطارانو مهاتما و. پښتون فقر عظمت سره نغښتې وه. دی په باطني لحاظ د پښتون د شخصیت په ثلاثه ځلانده ابعادو دده نه یې ځو بعدي او ذوفنون شخصیت جوړ کندهار یوې ستري کورنۍ ته منسوب و او په نَسَبَی

دده په خوان به دوستان او ارادتمندان راټول وه او د وطن او د ملت په دردونو به خبرې اترې او مرکې رواني وې. دی بالفطره عسکري شخصیت و او عملاً یې داعلیحضرت غازي امان الله خان په دوره کښې د کنډکمشری وظیفه سرته رسوله. دی د ضبط او ډیسیپلین خاوند و او د اصولو ځخه په هیڅ قیمت نه تیرېده. پښتون خبر لوځ، جرګه مار او د مرکو سړی و. هره مرکه او جرګه به دده په موجودیت کښې درنه او با عظمته بریښېده.

همدارنګه پښتون شاعر و، لیکوال و او د فلسفي افکار او لیکنو خاوند و. دده په لیکنو او شعر کښې فلسفي عمق او تصوفي کیفیت پروت و. دده په مصاحبت او مجالست کښې داسې یو جذب او کشش موجود و چه په لیدو او اورېدو یې ځان له ستړیا نه حاوي کېده، بلکه د زړه او دماغ د فراغ موجب ګرزېده. پښتون د پوهانو سره پوه و، د سپین ږیرو سره سپین ږیری، د ځوانانو سره ځوان، د ماشومانو سره ماشوم او د شاعرانو سره شاعر و، پښتون هردل عزیز او د هر ذوق او فکر خاوندان به پرده لکه پتنګان راټول وه. د همدې کبله هرچا به دا فکر کاوه چه پښتون زما دئ. نو پښتون سره له دې ټولو صفاتو ولې د شهرت خاوند نه شو؟

زمونږ په ټولنه کښې د شهرت اساسي عوامل د چوکی او اقتدار خاوند کېدل او د شتمنی او پیسو لرل وه او دي: د پښتون د ډلې او حلقې یاران او دوستان وزارتونو، سفارتونو او نورو مقامونو ته ورسېدل او د کوټیو او بنګلو خاوندان شول (د نومونو د تذکر نه یې ځان ژغورم.) خو پښتون معنوي مقامونه ترلاسه کړل او خپل قدر او عزت یې په درویشی کښې لیده. د ژوند ترآخره پورې په کرایي کورونو کښې اوسېده او خپل معیشت یې د دارالوکالې له لارې تامیناوه. (پښتون په فقه او قانون کښې ښه لاس درلود، او له خپله

کوره يې خپله دارالوکاله چلوله.) داسې څرګندېږي چه پښتون د چوکی او اقتدار دپاره هره شپه آيته کرسي په ځان نه دموله او خپل اصول او عزت النفس يې د چوکی او اقتدار دپاره نه معاوضه کول.

دوهم نفسي عامل: د پښتون په ذاتي او جبلي توګه د شهرت غوښتني او اقتدار نه کرکه وه. پښتون د خپلې مبارزې د پړاو يوه ملګري مرحوم ... ته چه وروسته د وزارت او سفارت مقام ته ورسيد، ويلې وه چې: تاسې يو ډيپلوم هم نه لرئ، خو زه شل ډيپلومه لرم. (د پښتون صاحب منظور خپلې بې شماره استعفا نامې وې.) تاسې په قصرونو کې ژوند کوئ او زه خانه بدوش يم، تاسې... خو زه تقاعد هم نه لرم؛ تاسې متلون المزاج ياست، خو ما په ژوند د خپلو اصولو څخه عدول نه دئ کړئ او ددې اصولو سره به يو ځای مرم.

د اسنادو، شواهدو او مدارکو څخه داسې څرګندېږي چه د پښتون صاحب سره د تجدد خوښولو او په ډيموکراسی او ګړنيزو آزاديو عقيده د غازي اعليحضرت امان الله خان په دوره کښې پيداشوې او په هغه وخت کښې ده هڅه کړې وه چې د يوې داسې ټولني يا انجمن تيره کېږدي چه د زمان او شرايطو د ايجاباتو او اقتضاآتو سره سم د افغاني نيشنليزم (ناسيوناليسم) په چوکاټ کښې د ډيموکراسی د مفکورې د رشد او ودې دپاره زمينه برابره کاندي.

د پښتون صاحب په يو يادداشت کښې چې خپل اوښې (اخښي) مرحوم استاد عبدالحي حبيبي ته يې سپارلئ و ، داسې لولو : ريشه تحريک من قبل از سال ۱۳۰۷ در کندهار موجود بود و زمان وضع مقررات و کار سازماندهی آن در حدود ده روز قبل از اغتشاش سقوی يعنی آخر سال (۱۳۰۷) خواهد بود. من مرام مشروطه خواهی و تشکيل اتحاديهٔ را به رفقای خود پيشنهاد کردم که مورد تصويب قرار گرفت. از جمله متحدين من محمدرفيق خان ، مرزا محمداعظم ايازی ، منشی منظورمحمد ، محمدکريم سرمعلم رشديه و اولياءَالدين خان ، معلمان و متعلمان مکتب وغيره بوده اند. از آن جمله که درست به ياد دارم مسلم نام مشهور است که تا هنوز حيات دارد و درکندهار به سر ميبرد.

دپورتنيو مطالبو څخه څرګنديږي چه پښتون صاحب هم دعمر په لحاظ اوهم دمفکورې په لحاظ دخپلو ملګرو نه دمشری او قيادت په مقام کښې ځای لري.

داچې د (ويښ زلمي ) دنامه پيشنهاد دچا دخوا نه شوئ، معلومه نه ده ، ولي څرګنده داده چې ددې نهضت مشري په لوی کندهار کښې دپښتون او په لوی ننګرهار او کابل کښې د مرحوم غلام حسن خان ساپي (چې يو جسور، هوښيار او موقع پېژندونکی شخصيت و.) په لاسو کښې و، که څه هم محمدرسول خان پښتون او غلام حسن خان ساپي په يوه وخت کښې ددی نهضت تيره ايښې ده ، ولې څرګنده ده چې د نهضت فکري ابتکار د پښتون صاحب په لاس کښې و او غلام حسن خان ساپي ورسره خپله بشپړه همنوايي ښودلې وه. ښاغلی عبدالصمد افشاري کندهاري د کابل د اخبار هفته د ورځپاڼې (ص ۱۵، دويم کال ، ۱۱ ګڼه، ۱۳۶۸/۱۲/۲۵ ش.) په يوه مقاله کښې د استاد حبيبي د يو يادداشت له مخې چې دغه استاد د پښتون د (آټوبياګرافي) نومي کتاب څخه اخيستئ دئ، ليکي: آقای صافی درين مفکوره از سابق از جناب خود من مهلم شده بود . درسال ۱۳۱۲ که من درمزار در عمله جناب محمدګل خان وزيرداخله با او يکجا بودم و آن وقت هم نزد من اين هدف موجود بود. هميشه اين قبيل مباحث را طرح ميکردم وبه ويژه آقای صافی را... زيادتر تحريک ميکردم ... درسال(۱۳۲۶) موقعی که من به حيث رئيس شرکت اجنسی از چمن به پيشاور رفته بودم آقای غلام حسن خان صافی نيز از مرکز به پيشاور آمده، درهوتل اروپايی (دنز) با هم يکجا شديم... بين خود نشسته برای تاسيس يک حزب عمومی در داخل مملکت صحبت نموديم و براين قرار داديم که او در ولايت مشرقی (که خانه او در آنجاست) و کابل (که در آنجا ماموريت دارد) و من در ولايت کندهار تحريک حزب مذکور را نموده، هرزمانی که زمينه را تهيه

نموديم، مجلس ثانی کرده، حزب را تاسیس مینمایم. از این نوشته ها استنباط میگردد که ایدیا، هدف و مرام و تشکل این جمعیت ملی خیلی پیش از سال (۱۳۲۵) به وجود آمده بود.

همدارنگه تاریخ نوین افغانستان (د مسکو موسیل یووید گانکوفسکی تالیف) په ۲۹ مخ کښې لیکي: درسال ۱۹۴۷سازمان سیاسی ایجاد گردید که بنام (ویښ زلمیان) شهرت گرفت دراین سازمان سیاسی درحدود صد نفر متعهد شده بودند و از لحاظ موقف اجتماعی و طبقاتی خود گوناگون بودند. در صف این جنبش محمدرسول خان پښتون یک تن از زمینداران کندهار بود. د پورتنیو لیکنو څخه څرګندیږي چې ددې نهضت نورو رجالو که په لوی کندهار یا کابل یا لوی ننګرهار کښې وه – ددغو دوو شخصیتونو یعني مرحوم محمدرسول خان پښتون او مرحوم غلام حسن خان ساپي تر زعامت او مشری لاندې کار کړئ دئ. د کابل د برجسته غړو څخه مرحوم غلام حسن خان ساپي، مرحوم استاد الفت، مولوی عبیدالله ساپي، مولانا استاد قیام الدین خادم، فیض محمد انګار کندهاری، پوهاند استاد رشتین، او د مرحوم استاد عبدالرؤوف بینوا نومونه دیادولو وړ دي . ډاکتر عبدالرحمن محمودي د (ندای خلق) د اخبار مدیر هم په لومړي سر کښې د ویښ زلمیانو د نهضت غړیتوب ومانه چې بیا وروسته له هغه نه ووت. د کندهار د غړو څخه د محمدابراهیم خواخوږي، عبدالهادي خان بهر، غلام جیلاني خان ، محمد انور خان اڅکزي، عبدالسلام خان بارکزي، استاد عبدالشکور رشاد، وکیل نورمحمد خان، محمد آصف پاس یوسفي، مولوي قاضي بهرام اڅکزي، حاجي خدای دوست، مرزا پیرمحمد بارکزي، او داسې نور نومونه د یادولو وړ دي. د کندهار ملګري ټول محبوس شول او ددوی ترحبس وروسته د کابل د حلقې برجسته غړو د وزارتونو ، سفارتونو او ریاستونو مقامونه او منصوبونه ترلاسه کړل. په دې ترڅ کښې مرحوم پښتون صاحب یوولس کاله او اته میاشتی ۱۳۳۱/۱/۲۸- ۱۰/۱۳۴۲/۱۰ سیاسي محبوس و.

ما ته لومړی ځل د ۱۳۴۶ش. کال په شاوخوا کښې د پښتون صاحب د مصاحبت او دوستی افتخار راحاصل شو. او د کلونو په ترڅ کښې راته ثابته شوه چې پښتون صاحب د لوی پښتون، ملي زعیم محمد ګل بابا د شخصیت ، اخلاقو ، افکارو او کرکټر مجذوب پاتې شوئ دئ. پښتون صاحب په ډېر ویاړ د بابا په مورد کښې خبرې کړلې او هغه یې د یو ډېر باعظمته انسان په حیث پیژانده. تردې ځایه د پښتون صاحب د شخصیت او سیاسي فعالیتونو په مورد کښې ما خپل او د ځینو محترمو لیکوالو او مورخینو نظریات څرګند کړل. مناسبه بولم په دې برخه کښې د پښتون صاحب د هنرمند زوی، نصیر هنر پښتون لیکنې ته دخپل پلار په مورد کښې غوږ کیږدو. ځکه دی د یوه دراک ځوان او زوی په حیث د هرچا نه ښه تره د خپل پلار د شخصیت او طرز تفکر سره آشنایي درلوده.

هنر پښتون لیکي:

پښتون انسان اجتماعی و در صحبتهایش خیلی صمیمی و بذله گوی بوده است. صراحت لهجه و جرآت اخلاقی از ممیزات وی بود. اطفال را سخت دوست داشت، به مطالعه فلسفی سخت علاقمند بود. از رفقای اپورتونیست، خود خوا و کرسی پرست خود بامذمت و نکوهش یاد میکرد. ایشان نیز تا هنگام مریضی وی را ترک گفته بودند. پښتون در سالهای آخر عمرش انسان نسبتاً مذهبی، عصبی، کم حوصله و درونگرا شده بود. بیشتر در معمای حیات و این بیاوبروها به اندیشه عمیقی فرومیرفت و یاس فلسفی از سخنانش هویدا بود. به حماسه، تربیت نظامی، حفظ و ډیسیپلین و باارادہ بودن از آغاز جوانی علاقه مند بود. از سخنان وی است که: تمام عمرم دلم برای بینوایان سوخت و با مردم کومک کردم ولی سرانجام فهمیدم که نسبت به آنان خودم قابل رحم بوده ام. (یوعمر مي پر نورو وژړل، خو زه خپله د ژړا وم.) پښتون از تن پروری، و ابن الوقتی بد میبرد. مخالف تراکم سرمایه و وسایل تولید در دست اشخاص معدود بود. نوعی اجتماعیتی رامیخواست که کاملاً مطابق منافع ملی، ممیزات و مشخصات افغانی و اصول اخلاقی و مذهبی باشد. رعایت اصول ناسیونالیسم افغانی، مذهب ، اصول اخلاقی و حقوقی، عدم علاقه به مادیات، رجعت (Regression) روانی سالم، عدالت اجتماعی، عدم هرگونه تبعیض، ایدیالیسم، ریالیسم،(فلسفی و علمی) هیروایسم، جبرگرایی

فلسفی، بیگانگی کامل با انتسابات خاندانی و قبیلوی، عقیده به ډیموکراسی... بنیادهای ایدیولوژیک وی بوده است. با مخالفین این بنیادها از مسامحه کافی کار میگرفت. از نظر عقیدتی مخالف اصول کاپیتالیسم و سوسیالیسم مارکسیستی بود. میگفت: این قاضی خیره سر را محاکمه کنید که بنیادهای چندین هزارساله را با آرزوها و فرمانها این قدر زود دگرگون کردن میخواهد.)
د پښتون صاحب د څو آثارو نومونه دادي : آټوبیاگرافي ، خلص تاریخچه حزب ویښ زلمی ، اندیشه ها (مقالات فلسفی، اجتماعی و وجایز) ترجمه عقاید ابوشکور سالمی ، تلخیص تاریخ جهان ، رساله نهضت نسوان (درعصرامانی) تلخیصات (درشش جلد) زما مالیخولیا... برسېره پردغو آثارو ددوی ډېرې مقالې ، مضامین او اشعار په مختلفو نومونو په جرایدو، مجلو او اخبارونو کښې چاپ شوي دي . له بده مرغه، د پښتون صاحب زیاتره قلمي آثار د (خاد) د قصابانو له خوا د نصیر پښتون په حبس سره، د تلاشی په وخت کښې په یغما یوړل شول او ترنن ورځې پورې د هغه د کورنۍ د پرله پسې تلاش سره سره نه دي ترلاسه شوي. (اخبار هفته ص۲ ش ۴۰، ۳عقرب ۱۳۶۹) . د پښتون صاحب نه څلور زامن او یوه لور پاتې شوي. (بشیراحمد پښتون، دکتور نذیراحمد پښتون، نصیر هنر پښتون، پروینه پښتون او ضیااحمد زلمی پښتون.) چې ټول د علم او معرفت خاوندان دي. او د پښتون صاحب د فضیلت ډېوه یې بله ساتلې ده. د پښتون صاحب ځوان او برومند لمسی (خالد احمد پښتون) وطن ته د خدمت په لاره کښې شپه او ورځ په مطبوعاتي فعالیت بوخت دئ. د یادونې وړ ده چې د پښتون صاحب د ویښ زلمیانو د نهضت د دورې ملگري چې د چوکیو او اقتدار خاوندان شول، مفارقت یې غوره کړ او دده لیدو ته نه ورتلل...
د۱۳۴۶ش راپه دی خوا چې ما ته د پښتون صاحب د مصاحبت اودوستۍ ویاړ راحاصل شوئ. دا لاندې محترم ذوات به دایم د پښتون صاحب لیدو ته ورتلل او چای او ډوډۍ به یې ورسره خوړه. محترم آغا محمد خان کرزی، محترم پوهاند رحیمي د حقوقو د پوهنځۍ پخوانی رئیس، محترم ترکزی مومند، محترم قدرت الله حداد، مرحوم حفیظ الله خان عبدالرحیم زی، مرحوم عبدالکریم حقاني، قاضي عبدالوهاب، محترم عبدالصمد افشاري، سناتور محدامین خوگیانی، دکتور عبدالفتاح ایازي، جناب محمد نورخان کندهاری، شهید میرنی، ښاغلی ملتیار، ښاغلی محترم حبیب کرزی او نور...
پښتون صاحب ته خدای(ج) قوي روح، قوي دماغ او سالم جسم ورکړئ و. دی د ډېر عمر خاوند و ، خو ډېرو ځوانانو دده انرژي نه درلوده. پښتون صاحب به په ټوکه کله ناکله ویل چی زه نه مرم. ربښتیا د پښتون صاحب مرگ د باور نه و. چنانکه یوه دوست دده په مړي وویل چې پښتون صاحب خو به ویل چې زه نه مرم ، خو دی هم زمونږ نه ولاړ.
پښتون صاحب د سرطان د میاشتې په دیارلسمه ۱۳۶۱ش. کال د ۸۲ کلونو په شاوخوا کښې وفات شو. ترڅو ژوندی یم ددې دروند ، صمیمی ، جذاب شخصیت او باعظمته انسان خاطرات به زما له زړه څخه ونه وځي.